لومړی کچه

# ډوب

storyweaver PRATHAM BOOKS

التعليم فوق الجميع | education above all



**لیکوال:** راجیب ایپ
**انځور گر:** راجیب ایپ

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .




یو شین آسمان، آرامه اوبه ... دا نو د ډوب لپاره یوه ښه ورځ وه.
مونږ یوه وړه کښتۍ د یو لوی چکر لپاره برابره کړه.



کله چې مونږ د ډوب ځای ته ورسیدو، په پوره پاملرنې سره مو خپل ټول وسایل وکتل او د ډوب جامې مو واغوستلې.



کله چې مونږ د اوبو ژورو ته ورسیدو، له زیږ لکیو کبانو سره مخ شوو.




هلته ډېر عجیب او غریب مخلوقات ول؛ لکه آسیایي کبان، طوطي کبان، پتنګي کبان، ښیښه یي کبان او داسې نور.

**د لا ډېرو معلوماتو لپاره د مخلوقاتو په اړه د کتب وروستې برخې ته ولاړ شئ.**




دغه طلايي کبان کولی شي خپل رنګ ته بدلون ورکړي، همدارنګه زيړې مښوکې لري چې په آسانۍ سره را نيول کيږي.


آيا دا کار کولی شئ؟




دا ښه خبره ده چې مونږ خپل ځانونه له زمري ډوله کب څخه په لرې واټن کې وساتو.
د دغه کب شوغې ډيرې زهرجنې دي.




دغه لیوني کبان په پوره پاملرنې خپل ځانونه په راتولولو سره خوندي کوي. خو په پایله کې ما وکولی شو چې یو څو انځورنه ترې واخلم.




مونږ یو مار ډوله کب ولید چې خپل غاښونه یې پاکول، او دوه نورو کبانو ځان ته لاره سموله.




هلته رنګین او اغزي لرونکي کبان اوسېدل. موږ. همدارنګه مرجانونه ولیدل او یو اته پښو لرونکی ژوی هم ؤ چې ښکته او پورته کېده.



اته پښو لرونکی ژوی پیاوړی ؤ، او هغوی ټولو خپل رنګونه بدلولی شوه.
اوږده کبان ډیر ښه بدلیدونکي وو، او خپلې ځیرې یې بدلولې. آیا په دغه انځور کې تاسو دوه اوږده پیریاني کبان وینئ؟




مونږ د اوبو په تل کې یو دوه سپینې لکۍ لرونکي شارک کبان ولیدل چې آرام یې کړی وو.
دغه کبان بې ضرره ول او مونږ هغوی ته نږدې ولمبل او مو لیدل.



مونږ یو کیشپ وښاره چې سمندري مرجانونه یې لټول تر څو خپل غرمنی پرې برابر کړي.



کله چې مونږ بیرته خپلې کیښتۍ خواته راتلو، مونږ یو شیطان کب ولید چې په اوبو کې آلوت او دوه ښلیدونکي کبان یې په وزرو ناست وو.



او کله چې مونږ فکر وکړ نور لمبل بس کړو ،نو هلته یو غوا ته ورته کب وو چې څریده.



خومره یوه ښه تجربه وه! زه باید بیا هم ولمبم.








مرجانونه هم بوټي دي او هم ژوي. په زرهاوو واړه ژوي په دغو مرجانونو کې ژوند کوي او خپله د ژوند انرژی ترې پوره کوي.
دغه مرجانونه کلک پوستکی دي او ډول، ډول ځيرې لري.

پلکټون هغه واړه موجودات دي چې له مرخيړيو، بکترياوو، د سمندري ژوو له هګيو او له کوچنيو ژوو څخه جوړ دي او د نورو سمندري ژوو د خوړلو توکي ګرځي.

ښکې لرونکي سمندري ستوري لکه بوټي داسې ښکاري، خو په اصل کې دا ژوي دي. دوی خپلې ښکې د اسلحې په څير کاروي او پلکټونونه پرې را نيسي.








طوطی ډوله کب غښتلي غاښونه او طوطی ته ورته مښوکه لري چې مرجانونو څخه خپل خواړه په همدې مښوکه تر لاسه کوي. ځینې طوطي ډوله کبان کلک مرجانونه هم خوري او ورسته بیا هغه کلکې برخې بیرته په سمندر کې غورځوي او د سپینو شګو سمندر غاړې ترې جوړیږي.

لیوني کبان یو ځای ژوند کوي او یو بل سره مرسته هم کوي. لیوني کبان د سمندري ګلونو غاښونه پاکوي او هغوی ته خوراکي توکي هم برابروی. او سمندري ګلان بیا لیوني کبان په خپلو زهرجنو غاښو کې ساتي او ورته ځاني تاوان نه اړوي.


غاښ پاکوونکي کبان هغه واړه کبان دي چې د نورو غټو کبانو  غاښونه له پاتې شونو څخه پاکوي. غټ کبان دغه واړه کبان د هغوی له حرکاتو څخه پیژني.




د تیږو اته پښو لرونکي ژوي کولی شي خپل ځانونه د رنګونو او د خپلو ځیرو په بدلولو وژغوري. دوی خپل کورنه په کندو کې جوړوي او یا خپل ځانونه په کاڼو کې پټوي.




پیریاني کبان یو ځای لکه یوه جوړه اوسیږي، او دغه کبان د ډوب په وخت کې خپل سرونه ټیټ نیسي تر څو له نورو سمندري ژوو څخه په امان کې وي. دوی همدارنګه کولی شي خپل رنګونه بدل کړي.



سپینې لکۍ لرونکي شارک کبان نري ځانونه، غټ سرونه او سپینې لکۍ لري. دغه کبان د شپې ښکار او د ورځې خوبونه کوي.







باز ډوله کیشپ غټ ځان، کلک پوستکی او باز ته ورته تیره خوله لري.

شیطان کب یو لوی کب دی چې وزرو ته ورته اعضا لري. دغه لوی وزرونه له کب سره مرسته کوي تر څو په اوبو کې په ښه توګه ډوب وکړي. د ځینو شیطان کبانو د وزرو فاصله تر ۲۳ فوټو رسیږي.

سمندري غوا یو له واښه خوړونکو ژوو څخه ده. د هغې د خوښې خواړه سمندري بوټي دي او کولی شي په خپلې خرطوم ډوله خوله دغه خوراکي توکي راټول کړي، نو له همدې کبله ورته سمندري غوا وایي.

# لارښودونکې پوښتنې

1. په دې قیصه کې مو کوم یو ژوی ډیر خوښ شو، او ولې؟

2. آیا غواړئ د دغو ډوبزنو په شان ډوب ته لاړ شئ؟ ولې یا ولې نه؟

3. څومره د سمندري ژوو ځانونه د ځمکني له ژوو سره توپیر لري؟

4. ولې فکر کوئ چې ځینې ژوي لکه زمری ډوله کب زهري اعضاوې لري؟

5. آیا کوم کب یا سمندرِي ژوی مو لیدلی دی؟ په اړه یې مالومات ورکړئ.